سـید عبیـدالله نــادر

۲۰۱۹/۰۷/۱۴

# دصاحبدل خوږه وینا یمه زه

ګلي چي تا سره ، آشنــــــا یمـــــه زه
د عشق په رنځ کي، مبتلا یمــــــه زه
ته می یــــادونو ، او خـــوبونو کي يي
تل به دا ستا په مینه، پایمــــــــه زه
بی له ته ژوند رابــاندي نه تـــــیریږي
باقي ژوندون ته ، په سو دا یمـــــه زه
چي می خو ګوته ، ستــــا د میني ښبنلي
عمرونه مست ستــــــــا په هوا یمه زه
ټول عمـــــــــر کاږم د فراق ، بارونه
ځـــــــکه دردونو ته ، پیدا یمـــه زه
آزار می مه اخـــله ، بیلـــتونه ، نوري
چي ستا د لاســــــه ، په ژړا یمـــه زه
هومره په زړه کي ، دیدنی ، لرمــــــــه
د خاطرو لویه ، دنیا یمــــــــــــــه زه
هر چـیرته اوري می ، دردمن دزړه غږ
ځـــــــه خوږمن زړو ته ، دوا یمــه زه
د خپل احســــــاس په شــان میندلای نشم
لــه ټول عــالم ځیني ، جــلا یمـــه زه
غیر د ربنتیا نه ، زړه کـــي ، هیڅ نه لرم
چي په خپل قول کي بي ریا یمـــــه زه
که چـــــا نه ورکه وي ، احساس قافله
ددغي لاري ، رهنمـــــا یمـــــه زه
هر چاته شیندم ، لکه شمـــــــــع فروغ
د تیـارو زړونو رڼا یمـــــــــــه ، زه
خپلـه وینـــــــــا کي می ، دردونه لرم
د صاحبدل خوږه وینــــــــا، یمـه زه
ظاهر صــــورت می، د مجـنون مه ګڼئ
ځـکه لټون کي د معنـــــــــی ، یمه زه
یو څوک همـدرد ، د زړه په درد نه وینم
په دي دنیـا کي ، یک تنـــــــها یمه زه
د نادانـــــانو ، د غفلـــت پایلــــه ده
چي نن ، په هر کوځـــــه رسـوا یمه زه
پرون مـــــی برم ، ټولـــــه نړئ ښوراوه
نن د هر چـــــا د در ګـــدا یمـــــه زه
راشه محــــبوبی ، اوس می حال وګوره
چي خـپل وطن کي، بینــــــــوا یمه زه

کال ۱۳۸۵کابل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ